**له افغانستان سره د جینوا کنفرانس د څه باندې ۱۳ میلیاردو امریکایي ډالرو مرستې ژمنه**

له افغانستان سره د مرستو لپاره د جینوا بلل شوې غونډه چې د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د نوامبر میاشتې له ۲۳ – ۲۴ پر لاره اچول شوې وه، له افغانستان سره د راتلونکو څلورو کلونو لپاره د څه باندې ۱۳ میلیاردو امریکایي ډالرو له مشروطې ژمنې سره پای ته ورسېده.

د نړۍ او سیمې د ۷۰ هېوادونو او نږدې ۳۵ سازمانونو استازو په ګډون د یادې غونډې ګډونوالو له افغانستان سره د مالي مرستې تر څنګ په افغانستان کې د تلپاتې سولې له بهیر او د سراسري اوربند او د ملکي کسانو لپاره د نړیوالو قوانینو مراعتولو غوښتنه وکړه.

د معلوماتو پر بنسټ د ۲۰۲۱ زیږدیز کال لپاره څه باندې درې میلیارده امریکایي ډالره مرسته اعلان شوه او که دغه مرستې په پوره روڼتیا سره ولګولې شي، دا مرسته به د څلورو کلونو لپاره څه باندې ۱۳ میلیاردو امریکایي ډالرو ته ورسېږي.

مرسته کوونکي هېوادونه یاده مرسته په افغانستان کې رامنځته کېدونکو پرمختګونو ته په کتلو سره تر سره کوي او پرمختګونو ته په کتلو سره به په کې زیاتوالی راولي. افغان دولت هڅه کوي چې د مرسته کوونکو هېوادونو او سازمانونو له لوري ټول وړاندې شوي شرطونه پوره کړي.

که څه هم له دې وړاندې نیوکې دا وې چې له افغان دولت سره د نړیوالو مرستې په ښه ډول نه دي لګول شوې، خو په دې کنفرانس کې له افغانستان سره هغه ژمنې تازه کېږي چې د دې مرستو د پر ځای لګولو لپاره د افغان دولت له لوري له مرسته کوونکو هېوادونو سره شوې وې.

همدې ټکي ته په کتو، افغان دولت په چارو کې د لا زیاتې روڼتیا د رامنځته کېدو لپاره تېره اونۍ له اداري فساد سره د مبارزې کمېسیون هم رامنځته کړ او غړو یې لوړه وکړه چې په هېواد کې به له اداري فساد سره په مبارزه کې له خپلې ټولې انرژۍ او پوره ځواکه کار اخلي او کلکګ مخنیوی به یې کوي. دا چاره که څه هم ستونزمنه ښکاري، خو دا په ګوته کوي چې افغان دولت د اداري فساد په مخنیوي کې جدي دی او نه پرېږدي چې مرسته کوونکي هېوادونه په افغانستان کې د اداري فساد له کبله خپلې مرستې بندې او یا یې هم کمې کړي.

له بل لوري د نړیوالې ټولنې په تېره بیا د هغو هېوادونو او سازمانونو شرطونه چې د افغانستان لپاره یې د مرستې لپاره ټاکلي دي، په پوره روڼتیا د یادو مرستو په لګولو کې له افغان دولت سره مرسته کوي.

باید وویل شي چې په شویو مرستو کې آسیایي پراختیایي بانک د راتلونکو څلورو کلونو لپاره له افغانستان سره د ۹۰۰ میلیونه ډالرو مرسته اعلان کړه. اروپایي ټولنې هم له افغانستان سره یو اعشاریه دوه میلیارد یورو مرسته اعلان کړه.

په همدې توګه له افغانستان سره هند ۳ میلیارده امریکایي ډالره، امریکا ۶۰۰ میلیونه امریکایي ډالره، جرمني ۴۳۰ میلیونه امریکایي ډالره، استرالیا ۲۰۰ میلیونه امریکایي ډالره، ناروې ۱۷ میلیونه امریکایي ډالره، جاپان ۱۸۰ میلیونه امریکایي ډالره، ډنمارک ۶۴ میلیونه امریکایي ډالره، هالنډ ۲۰۰ میلیونه یورو، کاناډا ۲۰۰ میلیونه امریکایي ډالره او بریتانیا ۱۵۵ میلیونه پونډه مرستې اعلان وکړ. دغه راز ایټالیا افغانستان کې د جګړې پای ته رسولو لپاره د ۳۵ میلیونه امریکایي ډالره مرستې ژمنه وکړه.

همدارنګه یو شمېر نورو هېوادونو هم د شرایطو په وړاندې کولو سره له افغانستان سره خپلې مرستې اعلان کړې چې په ټول کې د دې مرستو کچه د راتلونکو څلورو کلونو لپاره له ۱۳ میلیارد امریکایي ډالرو اوړي.

اوس افغان دولت ته په کار ده چې په خپل هېواد کې په پوره شفافیت او روڼتیا سره د یادو مرستو د لګښت په برخه کې د مرسته کوونکو هېوادونو له لوري وړاندې شوي شرطونه پوره کړي او له دې لارې د یادو هېوادونو باور تر لاسه کړي. که

څه هم د افغانستان په شان د نړۍ هېوادونو کې د دې شرطونو پوره کول ستونزمن کار دی، خو ټینګه، رېښتنې او غوښه اراده او له اداري فساد کوونکو سره قانوني چلند کول د وړاندې شویو شرطونو په پوره کولو کې مرسته کولای شي.

سرچینې:


۱. بي بي سي پښتو ویب پاڼه/ جنیوا کنفرانس پای ته ورسېد؛ افغانستان سره د څه باندې۱۳ میلیارده ډالرو مرستې ژمنه وشوه
جنیوا کنفرانس پای ته ورسېد؛ افغانستان سره د څه باندې ۱۳ میلیارده ډالرو مرستې ژمنه وشوه BBC News - پښتو

۲. د مالیې وزارت/ د ۲۰۲۰ کال په کنفرانس کې له افغانستان څخه قوي ملاتړ
https://mof.gov.af/dr